محمد انور آخڅ ۲۰۲۳/۰۱/۰۲

# له کوره بهر، د ښځو کار کول په شریعت

په نړۍ کې د هر ساکښ لپاره اړینه ده چې د خپل ژوند د بقا په موخه کار او زيار وګالي، هر ژوندي مخلوق ته الله تعالی د هغه د خلقت او ځرنګوالي په نظر کې نيولو سره وړ پوهه ورکړې ده تر څو د ځان او بچیانو د مړولو په موخه هڅې وکړي، دا ډول هڅې او کوښښ د هر ساکښ په فطرت کې نغښتې دي چې يوه بېلګه يې داسي ده: که یوې (کوړکي) چرګې ته د پتکي (مرغ آبي) او چرګې هګۍ ورلاندې شي وروسته له شلو ورځو، له هګیو د چرګې چرګوړي او د پتکي بچيان (پتکي) راوځي، دا دواړه مختلف مخلوق په هغې کوړکې چرګې پسې د ځان مړولو په موخه ځغلي خو کله چې د پتکي بچيان د لومړي ځل لپاره اوبه وويني، پرته له کومې ښوونې څخه له چرګې او چرګوړو جدا او اوبو ته ورګډيږي تر څو په اوبو کې خپل خوراک ولټوي او ځانونه ماړه کړي چې دا د پتکي د بچيانو د زيار ايستلو فطري جوړښت دی.

خو د نورو ټولو ساکښو په پرتله انسانانو (ښځينه او نارينه) ته لوی ځښتن لوی مقام او پراخه پوهه ورکړې ده چې د خپلې پوهې پر بنسټ په ښه توګه کار کولی شي چې له امله يې په آسمان، اوبو او وچه کې خپلو موخو ته په اسانی سره رسيدلی شي، په دې هکله الله (ج) فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا﴾

ژباړه:«دا زموږ پیرزوینه ده چې بنی آدم ته مو لويي ورکړه، په وچه او لمده کې مو سپرلی ورکړي او له پاکو څيزونو مو روزي ور په برخه کړه او پر خپلو زياترو مخلوقاتو مو ښکاره لوړتيا وروبښله.» (اسراء: ۷۰)

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾

ژباړه:«په حقيقت کې موږ انسان په ډېره ښه بڼه پيدا کړ.» (التين: ۴)

پورته مبارکو آيتونو کې سربيره د انسان پر لويی چې الله تعالی ورکړې ده، هغه ته يې روزي هم ورکړې ده، د روزۍ ورکړه داسې نه ده لکه په جنت کې چې تيار په تياره چې څه ډول خواړه وغواړې په يوه لحظه کې درته حاضر شي، بلکې په دې نړۍ کې د انسانانو لپاره داسې روزي چمتو شوې ده چې د انسان د هڅو او کوښښ له امله تر لاسه کيدی شي چې دغه هدف ته د رسيدلو په موخه لوی ځښتن انسانانو ته پوهه، لاس پښې، سترګې او نور غړي ورکړي دي چې په انسانانو کې طبعاً ښځې هم شاملې دي، ځينې ښځې د سريو په څېر د اړتیاوو له امله اړې دي له کوره بهر کار وکړي تر څو د ځان او خپلې کورنۍ د ژوند کولو اړين توکي تر لاسه کړي. په قرآن کريم، احاديثو او اسلامي تاريخ کې د ښځو د کار کولو ډېرې بېلګې شتون لري چې په اړه يې د قرآن حکيم څو آيتونه وړاندې کوو، لومړی د موسی (ع) هغه پېښه چې د مصر د فرعون له وېرې له مصر څخه تښتيدلی ؤ او د مدين سيمې ته ورسېد، په هغه ځای کې يې د شعيب (ع) دوه لونه وليدې چې د خپلو مېږو د اوبه کولو لپاره منتظرې وې او موسی (ع) مرسته ورسره کوي:

﴿وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ۖ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ الرِّعَاءُ ۖ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ۝ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰ إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ﴾

ژباړه:«او کله چې هغه د مدين څاه ته ورسيد، نو ويې ليدل چې ډېر خلک خپل څاروي اوبه کوي او له هغو څخه بېلې يوې خواته دوې ښځې خپل څاروي ايساروي، موسی له دغو ښځو څخه پوښتنه وکړه: تاسې ولې اندېښمنې ياست؟ هغوی وويل: موږ خپلو څارويو ته تر هغو پورې اوبه نه شو ورکولای تر څو دغه شپانه خپل څاروي له دغه ځايه بوځي او زموږ پلار (شعيب) ډېر زيات سپين ږيری سړی دی. موسی د هغوی څاروي اوبه کړل. بیا یوې سيوري ته ولاړ او ويې ويل: پروردګاره! هره ښېګڼه چې تا پر ما نازله کړې زه هغې ته اړ يم.» (القصص:۲۳-۲۴)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

﴿فَجَاءَتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ۚ فَلَمَّا جَاءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ ۖ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ﴾

ژباړه:«له هغو دوو ښځو یوه په شرم او حیا سره را روانه، موسی ته راغله او ویې ویل: زما پلار تا غواړي، تا چې زموږ څارویو ته اوبه ورکړې، د هغه اجرت درکوي. موسی چې کله هغه ته ورغی او خپله ټوله کیسه یې ورته واوروله نو هغه وویل: هیڅ مه وېرېږه اوس ته له ظالمانو څخه ژغورل شوی یې.» (قصص:۲۵)

د موسی (ع) په دې کیسه کې وینو چې د یو پیغمبر شعیب (ع) لونه میږې پیایي او شپني کوي، ځکه چې پلار یې سپین ږیری او ضعیف دی په کور کې بل څوک نه لري، اړې دي چې له سړیو جدا خپلې میږې اوبه کړي، بله دا چې موسی (ع) او د شعیب (ع) د لونو تر منځ خبرې کیږي او موسی (ع) مرسته کوي، ځکه خو ویلی شو چې:په هغه صورت کې چې ښځې په کور کې د کار سړي ونه لري، اړې دي چې په بهر کې کار وکړي او ښځې له سړیو سره د نېکی خبرې هم کولی شي چې په دې هکله د قرآن کریم د احزاب په سورت کې هم یادونه شوي ده.

د پیغمبر (ع) په زمانه کې ښځو د نبوي جومات په ورستیو صفونو کې لمونځونه کول او هم یې د اختر په لمونځونو کې د پیغبر (ص) په غوښتنه ګډون درلود، د دا ډول عبادت په اړه په قرآن کریم کې مؤمنانو ته یادونه شوي ده چې کله د جمعې د لمانځه اذان واورې نو خپلې بوختیاوې پرېږدې او لمونځ وکړئ، نو چې کله له عبادت څخه فارغ شئ په ځمکه کې د الله (ج) د رزق او روزی لاس ته راوړلو په موخه کار او هڅې وکړئ، په دې هکله الله تعالی مؤمنانو ته ویلي دي چې په مؤمنانو کې طبعاً ښځې هم شاملې دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

ژباړه:«ای مومنانو! کله چې د جمعې لمونځ لپاره ږغ (اذان) وشي نو د الله د ذکر (لمانځه) خوا ته وځغلئ او پیرل، پلورل پرېږدئ، دا ستاسي لپاره ډېره غوره ده که تاسي پوهېږئ. کله چې لمونځ ترسره شي نو په ځمکه کې خواره شئ او د الله فضل ولټوئ او د الله ډېر ډېر یادوونکي اوسئ، ښایي چې تاسي ته برى په برخه شي.» (الجمعة: ۹-۱۰)

د رسول الله (ص) او له هغه راوروسته ښځو ډول، ډول تجارتونه کړي چې له هغو څخه، ام منذر بنت قیس، خجروې (خرما) پلورلې، اسماء بنت مخرمه بن جندل له یمن څخه عطرونه راوړل او په مدینه کې یې پلورل، هند بنت عتبه او خدیجه (رض) بنت خویلد چې د پیغمبر (ص) لومړنی میرمن وه له بهره یې توکي واردول. (http://eprc.sbu.ac.ir/fa/ArticleView.html?ItemID=95130)

تجارت چې په اسلام کې یوه سپیڅلي دنده ده له دې امله په هر مهال کې ښځینه او نارینه ته اجازه ورکړی شوي ده چې تر سره یې کړي تر دې چې الله تعالی د حج د مراسمو د ادا کولو پر مهال هم د تجارت اجازه ورکوي فرمایي:

﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ﴾

ژباړه:«او که له حج کولو سره سره تاسي د خپل رب د فضل (مال ګټلو) په لټه کې هم شئ نو باک نه لري.» (بقره: ۱۹۸)

وایي چې د رسول الله (ص) پر مهال او د حضرت عمر (رض) د خلافت په وخت کې ښځو د ښار مالي چارې ترسره کولې. حضرت عمر (رض) د عبدالله لور شفاء د ښار د مالي چارو مسؤله (حسبه) ټاکلې وه. د ابن حزم او طبري او ماوردي قول همدا دی او په الاستیعاب کې هم راغلي دي چې [په مکه کې د پیغمبر (ص) پر مهال] سمراء د نهیک اسدي لور د ښار د مالي چارو مسؤله ټاکل شوې وه، هغه به په ښار کې ګرځېدله، امر او نهي به یې ترسره کول، دُره به یې به لاس کې وه چارې یې سمبالولې او په دې توګه یې خپل مسؤلیت په جدي توګه ترسره کاوه.» (https://dinfile.ir/product)

دا ډول خدمت کوونکي ښځې او سړي چې خلک له بدو منع کوي قرآن کریم داسې راپېژندلي دي:

﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ﴾

ژباړه:«مؤمنان نارینه او مؤمناني ښځې دا ټول د یو بل دوستان دي، په ښو چارو امر او له بدیو څخه منع کوي.» (توبه: ۷۱)

ښځو له رسول الله (ص) سره څنګ په څنګ په جګړو، هجرت او نورو چارو کې فعاله برخه اخیستي ده چې په قرآن عظیم او د پیغمبر (ع) په ډېرو صحیحو حدیثونو کې یې یادونه شوي ده، د قرآن کریم د عمران سورت، ۱۹۵ آیت شریف د شان نزول په اړه په کابلي تفسیر او د ابن کثیر په تفسیر کې راغلي دي:«ام سلمه (رض) رسول الله (ص) ته عرض وکړ: یا رسول الله! په قرآن کې زموږ د ښځو د هجرت او نورو حسنه اعمالو په اړه هیڅ ذکر نه دی راغلی. نو د هغې ځواب په دې آیت سره ورکړی شو.»

﴿فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ۖ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ۖ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ﴾



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ژباړه:«د هغوی رب د هغوی غوښتنه ومنله، ويې فرمايي:زه ستاسي د هېڅ يوه عمل نه ضايع کوم، که نارينه وي که ښځينه، تاسي ټول ځيني د ځينو له جنسه ياست، له دې امله کومو خلکو چې زما په خاطر خپل وطن پرېښود او له خپلو کورونو وايستل شول او زما په لار کې وځورول شول او جګړه يې وکړه، د هغو ټول ګناهونه به زه وبښم او هغوی به داسي باغونو ته ننباسم چې تر هغو لاندې به ويالې بهيږي، دا د الله په وړاندې د هغو مکافات دي او ډېره غوره جزا له همدې الله سره ده.» (عمران: ۱۹۵)

د ښځو ونډه په جګړو او له مؤمنانو سره په غونډو او نورو ښو چارو په اړه ډېر حديثونه شتون لري چې په يو حديث کې له حفصې (رض) څخه روايت دی چې وايي: موږ پېغلې به په اخترونو کې عيدګاه تللو څخه منع کيدلو، يوه ښځه د بني خلف قصر ته راغله د خپلې خور نه يې دا خبره نقل کړه ويې ويل چې زما د خور خاوند په دولسو غزاګانو کې د نبي کريم (ص) سره جهاد کړی ؤ او شپږو غزاګانو کې زما خور د هغې سره وه، هغې وويل چې موږ به د زخميانو درملنه کوله او د ناروغانو خدمت به مو کولو. يو ځلې زما خور د نبي (ص) څخه پوښتنه وکړه چې موږ کې له چا سره پړونی نه وي نو هغې بهر وتلو کې څه ګناه شته؟ رسول الله (ص) وفرمايل:«د هغې ملګرې ته په کار دي چې هغه په خپل پړوني کې پټه کړي او هغې ته په کار دي چې د خېر په کارونو کې ونډه واخلي او د مسلمانانو سره په بلل شويو مجلسونو کې ګډون وکړي.»

څه وخت چې ام عطيه راغله نو ما هغې ته وويل چې آيا تا د نبي (ص) نه په دې باره کې څه اوريدلي دي؟ هغې وويل چې هو، زما پلار دې ترې قربان شي، ما له نبي (ص) څخه اوريدلي دي:«په پرده کې ځواني نجونې، محجبې ښځې او حايضې ښځې بهر وتلی شي او د خير خواهی په چارو کې له مؤمنانو سره په بلل شويو مجلسونو کې ګډون کولی شي، يوازې حايضې ښځې دې د لمونځ نه جدا وي.»

حفصه (رض) وايي: ما وويل چې آيا حايضې ښځې دې هم شرکت وکړي؟ نو هغه وويل: آيا حايضې ښځې په عرفه کې نه حاضريږي او په فلانې، فلانې ځای کې ګډون نه کوي.» (صحيح بخاري، دحديث شمېره ۳۲۴)

په قرآن کريم کې له کوره بهر د ښځو د کار نه کولو او په کور کېناستلو په تړاؤ کوم احکام نه دې راغلي يوازې د احزاب سورت په ۳۳ آيت کې د پيغمبر (ع) د ميرمنو په هکله يادونه شوي ده چې ځيني فقهيان يې پر عامو ښځو پلي کوي او په کور يې کېنوي چې په اصل کې نوموړی آيت په څرګند ډول د پيغمبر (ع) د ميرمنو په تړاؤ نازل شوی دی، نه د عامو ښځو په تړاؤ، له دغه آيت څخه وروسته بل آيت راځي او د پيغمبر (ص) ميرمنو ته وايي چې تاسي د نورو عامو ښځو په څېر نه ياست:

﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ۖ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾

ژباړه:«په خپلو کورونو کې مېشتې اوسئ او د تېر جاهلي دوران غوندې سينګار کړي او بې ستره مه ګرځئ. لمونځ قايم کړئ، زکات ورکړئ او د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ. الله دا غواړي چې ستاسي نبوي کورنی څخه چټلي ايسته کړي او تاسي په پوره ډول ستره کړي.» (احزاب: ۳۳)

﴿يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ ۚ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا﴾

ژباړه:«ای د پيغمبر مېرمنو! تاسي د عامو مېرمنو غوندې نه ياست. که تاسي له الله څخه وېرېږئ، نو په داسي لهجه خبرې مه کوئ چې د زړه په خرابی اخته سړي (نامشروع) تمه پيدا کړي، بلکې سمې، غوره او ځيرې خبرې کوئ.» (احزاب: ۳۲)

د رسول الله (ص) ميرمنو له هغه سره په ډېرو جګړو کې برخه اخيستي ده چې په جګړو کې ګډون ډېر سخت او لوی کار دی خو د پيغمبر (ص) له وفات وروسته هم د ده ميرمنې عايشې (رض) د جمل د جګړې مشري کړې ده او د حضرت عمر د خلافت پر مهل د پيغمبر (ع) ميرمنې د حج ادا کولو په موخه هم مکې ته سفرونه کړي دي. په دې بنسټ ويلی شو چې د رسول الله (ص) د ميرمنو په کور کېناستل په يو خاص زمان او ځانګړې حالت پورې اړه درلوده، نه دا چې تل عمر دې په کور کې بندي پاتې شي.

زموږ په ګران هېواد کې چې اوسمهال بې ګناه نجونې او ښځې، ښوونځيو او پوهنتونونو ته نه پرېښودل او په کور کېنول شوي دي دا عمل له شريعت سره په ټکر کې دی، په کور کېنول (بندي کول) د زناکارو ښځو د سزا په څېر عمل دی قرآن فرمايي:

﴿وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ ۖ فَإِن شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّىٰ يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا﴾

ژباړه:«ستاسو له ښځو څخه چې څوک بدلمنې وي پر هغو باندې ستاسي څخه څلور شاهدان ونيسئ او که څلور کسان شاهدي ووايي نو هغوی په کورونو کې بنديانې کړئ تر هغه پورې چې هغو ته مرګ راشي يا الله د هغو لپاره څه لاره برابره کړي.» (نساء: ۱۵)

امارت چارواکي وايي په بهر کې د ښځو د کار کولو له امله فتنه رامنځ ته کيږي، که احياً د دوی دا خبره سمه وي د حکومت دنده ده چې هغه اړمنې ښځې چې په کور کې د نفقې د ګټلو سړي نه لري، په بهر کې د کار کولو داسې



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

شرایط رامنځ ته کړي چې له یوې خوا د فتنو مخه ونیول شي او له بل پلوه ښځې کار وکړای شي، موږ ټول پوهېږو چې اسلام تر ټولو ادیانو آسان او بهترین دین دی موږ باید د هر ډول سختیو څخه د آسانی پر لور وخوځیږو، نن چې کوم سخت حالات پر افغان ولس راغلي دي باید چې له پوهې کار واخیستل شي خپل ناوړه حالت په خپله بدل کړو: «الله د یو قوم حالت نه بدلوي تر څو چې هغوی په خپله خپل حالت بدل نه کړي.» ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾ (رعد: ١١)

امارت چارواکو ته لازمه ده د ښځو د زده کړو او کار کولو په هکله ور دریځ غوره کړي، په دا ډول کړنو باندې د اسلام دښمنانو ته موقع په لاس ورځي چې د اسلام د سپیڅلي دین پر خلاف ناوړه او تباه کوونکی تبلیغ وکړي او نړیوال له اسلام څخه متنفر کړي، چارواکي دې د اسلامي امارت تاریخ د سقاوي غلو په څېر (چې زده کړې يې بندې کړې او په خپله په اودس نه پوهېدل) بدنام نه کړي. چارواکي دې د قرآن عظیم پر دې ښوونو باندې عمل وکړي چې الله تعالی زموږ ستر پیغمبر (ص) ته ویلي دي:

﴿فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾

ژباړه:[ای پیغمبره (ص)!] «دا د الله لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډېر نرم خویه جوړ شوی یې، که داسې نه وای او ته توند خویه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شاوخوا څخه خواره شوي وای. د دوی خطاوې وبښه، د دوی لپاره بښنه وغواړه او د دین په چارو کې هغو ته هم په مشوره کې برخه ورکړه، بیا چې ستا اراده پر کومه رایه ټینګه شي نو پر الله توکل وکړه. د الله هغه خلک خوښیږي چې د هماغه په ډاډینه کار کوي.» (عمران: ١٥٩)

نېټه: ١٤٠١/١٠/١١ل. ل

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ